احمد شاه وردک

۰۶ می ۲۰۱۲

دانه د گل، نه د سپرلی کیسه ده  ستا دښایست کیسه ده، ستا دځوانی کیسه ده
په هرمحفل کی دهرچا په شونډو  ستا دحیا او سادګی کیسه ده
ستا دښایست کیسه ده، ستا دځوانی کیسه ده

دلوی اوبخښونکی خدای په نامه

# (داروانښاد مرّچ آغا دژوندانه لنډ پیژند لیک)

اروانښاد پیر کامل **سید نوراحمد شاه آغا** چی خلکود **(مرچ آغا)** او**( حاجی آغا)** په نامه پیژانده، دسید میر احمدشاه آغا( مشهور په منګ آغا) زوی، دسید محمد عظیم آغا لمسی او دسید رسول آغا (مشهور په حاجی نیکه) کړوسی دی.

داروانښاد **حاجی آغا** له قوله، داسی معلومیږی چی دده مبارک نیکه(حاجی نیکه) له نن څخه دوی پیری وړاندی د سوویلی پښتونخوا د پښین دعلاقی څخه دکندهار ښارته هجرت راکړی دی. دده مبارکه کورنی دساداتو د پیژندل شوی سلسلی له یوی لویی کورنی (ښادی زیو) سره تړاو لری.

دعیارانو او کاکه ګانو قافله سالار**(مرچ آغا مبارک)** په ۱۳۰۵ هجری شمسی کال دکندهار دنوی ښار په شپږمه ناحیه کی دنیا ته راغلی چی د پلار یوازینی اولاد وو. **اروانښادحاجی آغا مبارک** چی لا تنکی ځوان وو، مبارک پلار یی له نری څخه سترګی پټی کړی او ده ته د مسولیتونو لوی پیتی ورپه غاړه شو، چی دژوندانه تر پایه یی دا پیتی په ډیر متانت او ځوانمردی سره ، په خپلو اوږووباندی یووړ.

د**حاجی آغا مبارک** څخه اته زامن پاته دی، چی مبارک نومونه یی په دی ډول دی: سید مسلم شاه آغا، سید ځوان آغا، سید تور آغا، سید ګران آغا، سید ګلاب شاه آغا، سید تاجدار آغا، سید ابراهیم شاه آغا او ترټولو کوچنی سید شیر شاه آغا چی د خوارلسو کلنو عمر لری. دحاجی آغا په ټولو اولادونو کی دده ، نیک اوصاف اوښیګنی لکه میړانه، میلمه پالنه، سخاوتمندی، غریب نوازی، کمینی، تواضع او بردباری له ورایه ځرګندیږی.

**حاجی آغا مبارک** یوربیښتینی درویش اود عیارانواوځوانمردانو د آسمان یوځلانده ستوری و. دده دځوانمردی او میرانی انګازی دهیواد په ګوټ ګوټ کی اوریدل کیدی اوهر ځای به دعیارانو ټولګی لکه پتنګان ، دده په شاه

اوخوا راټول وو. **حاجی آغا مبارک** دعیاری، کاکه ګی اومیړانی ، یوه نمونه اوسمبول و، دنورو لپاره قربانی او ځان ښندنه دده دژوندانه یوه مهمه برخه وه او په دی لاره کی یی دزړه له کومی هلی ځلی کړی دی، آن تردی چی خپل خوږ ژوند یی هم دخلکو دخدمت اوهوسا ینی په لاره کی له خطر او ستونزو سره مخامخ کړی و، اوپه دغه سپیڅلی لاره کی څو څو ځله ټپی شوی هم و.

**حاجی آغا** په خپلو نیکو اوصافو اوځوانمردی سره دخلکو زړونه داسی ښکارکړی ووچی ده ته یی دعارفانو په اصطلاح **دزړنو دسلطان** مقام ورکړی و.

**حاجی آغا** په ریښتیا د خلکو دزړنو ښکارچی و، او هرڅوک به چی دده په حضور مشرف شول، په لومړی کتنه کی به دده مبارک، دنیکو اوصافو اوځوانمردی ګرویده شو. ددی ټولو سربیره، ددرویشانو قافله سالار حضرت مرچ آغا رحمة الله علیه، د فقیری اودرویشی له ښکلی نړی څخه را بهرنشو، دنیوی شان اوشوکت او په ټولنه کی لوړ مقام دده په روح اوروان هیڅ ډول اغیزه ونه کړه اوترپایه ددغه جاویدانه کاروان سردار اولاربنوود، پاته شو.

حاجی آغا ددنیوی تجمل اولذتونو څخه بیزاره وو او همیش یی دریښتینو درویشانو او فقیرانو په څیر ژوند تیراوه، ده هو ساینه او لذتونه دنورو خلکو لپاره غوښتل او خپله یی په خاورین کور او خاورین کنډولی قناعت کړی و. ده مبارک هیڅ کله ددنیا په ټولولو پسی هڅه نه وه کړی او کوم څه به یی چی درلودل هغه به یی هم د نورو خلکو سره په ډیره سخاوتمندی شریک کول. دده دمریدانو دا ادعا چی وایی:**(( دخدای شکردی،چی زموږ پیر سخی او ځوانمرده دی))** ډیره په ځای اوله شک څخه لیری خبره ده .

دده ښکلی دربار به همیشه له دوستانو، شاکرینو، ملنګانو او انډیوالانو څخه ډک و،اود ډیرو بی پناهو خلکو پناهګاه وه . حاجی آغا مبارک به ډیر وخت په خپلو لاسونو میلمنو ته د شوربا اونورو خوړو دیګی پخاوه، اوپه خپله به یی دمیلمنوپه خدمت کی اینبود، ده مبارک به ویل:**(( پنځوس کاله می په خپلو لاسونو انډ یوالانو ته ډوډی ورپخه کړی ده))**. دا دحاجی آغا مبارک دمیلمه پالنی او سخا لوړه مرتبه وه چی الله تعالی ده ته وربخښلی وه، او ده مبارک دژوند ترپایه، په ډیره خوښی دهغه پالنه کوله او خپل خوږ ژوند یی دی سپیڅلی لاری ته، وقف کړی و.

**حاجی آغا مبارک** دتعصب، ظلم ، ناروا، زورزیاتی او توپیر څخه بیزاره و اودریښتینو عارافانو په څیر یی دانسان لوړی مرتبی اومقام ته د درناوی په سترګه کتل. دده په دربارکی هیڅ ډول توپیر او تبعیض موجود نه وو. دربار به یی دهرقوم او قبیلی له وګړو څخه ډک و: څوک به دهیواد دشمال څخه، څوک دجنوب او څوک هم دختیځ اویا لویدیځ څخه و او په بیلو بیلو ژبو به یی خبری کولی. ولی دده ددربار یوه ژبه وه، هغه هم دمحبت اووروګلوی ژبه ، داسلامی او افغانی پیوستون ژبه وه، دځوانمردی اوقربانی ژبه وه. د ده په قلمروکی لوړ او ټیټ نه و،دارا او ناداره نه و،زورور او کم زوری نه و. دده دربار ته ګدا اوسلطان په یو شان راتلل اودده غیرت او میرانی ته به یی دتعظیم اودرناوی لپاره سر کښته کوو. دده عالی شخصیت دسیمی ، رنګ اونژاد دمحدودی او تنګی نړی څخه ډیراوچت اوپراخه و.

**حاجی آغا مبارک** د افغانستان دخلکو دجهاد کلک ملاتړی وو او خپل شاکرین او مریدان به یی دپردیو دیرغل په مقابل کی هڅول او پخپله یی هم ټول وخت دمجاهدینو ترڅنګ دهیواد دژغورلو لپاره د جهاد په تودو سنګرونو کی شپی اوورځی سبا کولی . دده جهاد اومبارزه په خاصه توګه دبهرنی تیری په وړاندی متمرکزه وه، او د خپل منځی جګړو اوسیالیو څخه سخت بیزاره وو. حاجی آغا به تل ویل:**(( ټول په دی هیواد کی مسلمانان دی، ولی یو بل سره وژنی؟))**.

ارواښاد مرچ آغ به همیش دهیواد گوت گوت ته سفرونه کول اوهرځای به یی چی تشریف یووړ نو په یوه گړی کی به دده په لس گونو اوسل گونو مشتاقین اودوستان دپتنگانو په څیردده په شااوخوا راټول شول. کابل ، مزار شریف،هرات، جلال آباد اوپه نورو سیمو کی یی ډیر شاکرین او انډیوالان درلودل او همیشه به ددوی لیدو ته ورتله. دشاه ولایت مآ ب امیرالمومنین حضرت علی کرم الله وجه د مبارک مزار، زیارت کول دده همیشنی عادت و او کله به چی دکندهار څخه وخوځید نو ترکابل ورسته به یی ځان( سخی جان) ته رساوه او هلته به یی د دوستانو سترگی په خپل مبارک دیدن خوږی کولی.

د**حاجی آغا مبارک** دښکلا څخه ډکه نړی پراخه او بی سرحده وه، ده مبارک ته به دملکوتی نړی څخه الهامات په خوب کی څرگندیدل،او خپل مشاهدات او مکاشفات به یی په کی لیدل او کله به یی چی خوب ولید، نو بیا به یی دخپلو شاکرانو او انډیوالانو سره شریک کړ او دهماغه خوب د تعبیر په رڼا کی به یی دمستقبل دحالاتو وړاندوینه کوله چی رینتینوالی به یی ټولو په خپلو سترگو مشاهده کاوه.

**حاجی آغا مبارک** په خپل ژوند کی ډیری ستونزی او کړاونه گاللی او څو څو ځله ټپی شوی هم دی ،دده مبارک په قول چی ویل به یی: **((ټول وجود می ټوکرټوکر دی)).** هو کی، داټولی هغه قربانی وی چی ده ددوستانو لپاره ورکړی وی او ځان یی ټوکر ټوکر کړی و، دده دمبارک وجود پرهارونه له ورایه ښکاریدل ولی ده هیڅکله هم چاته دا نه څرگندوله او هیڅ شکایت او نالش به یی نه کاوه او هرڅه یی په میرانه اوصبر سره تحمل کول. په وروستیو څو کلونو کی دده یوه مبارکه پښه دورپیښ شویوپرهارونو په وجه له کاروه ولویده او په لکڼه شو،چی دی ناتوانی **حاجی آغا** ته ډیر ځور ورکاوه او هیڅ یی نه خوښیده چی دنورو په مرسته په لاره ولاړ شی، دده لوړغیرت اوهمت دانه ایجابوله چی څوک په ولاړیدلو اویا کښیناستلو کی مرسته ورسره وکړی. او تل به یی تینگار کاوه چی:**(( یه! ایله می کړی زه خپله ولاړیږم)).**

**حاجی آغا مبارک** پر خپلو شاکرینو او انډیوالانو ترموراوپلار هم ډیر مهربانه و او د دوی ستونزی به یی هوارولی . ده مبارک به همیشه ویل چی:**(( همدا انډیوالان زما ورونه اوکورنی ده او خدای می دی هیڅکله بی دوی څخه نه کوی)). حاجی آغا مبارک** دالله( ج) په مهربانی او کرم ټینگ باور درلود او په دی متیقن و چی مسلمانان به خدای (ج) په خپل کرم اومهربانی سره بخښی، دده مبارک په قول چی ویل به یی: **(( سترگی پټول دی او جنت ته ننوتل دی)).**

**حاجی آغا**، خپل ټول ژوند خلکو ته دخدمت په لاره کی وقف کړی و اودخلکو دستونزو په هوارولو کی یی دهیڅ ډول زیار اوزحمت څخه ځان نه سپماوه. اوهرچا به چی تری مرسته وغوښتله نو ده به ورته په لبیک وایه. **حاجی آغا مبارک** دشخړو او ستونزو په حل کولو کی خاص مهارت درلود او همیشه به دکندهار په ښار او حتی ټول هیواد کښی لویی او وړی ستونزی او شخړی دده په منځگړیتوب او زیار هواریدلی. دده هره فیصله به دعدل او انصاف او کاملی بی طرفی پر بنسټ ولاړه وه، نو ځکه دده مبارک فیصله په هیڅ وخت کی نده ماته شوی. دا نه په دا چی حاجی آغا کوم مادی اویا دولتی ځواک او زور درلود، بلکه دا دده مبارک روحانی ځواک اوتوانمندی وه، چی خکلو په خپلو تجربو سره پیژندلی وه اوپه دی متیقن و چی **دحاجی آغا** پریکړه به ددوی په خیر اوښیگڼه وی.

کله چی دکندهار ښکلی ښار دخپل منځی شخړواوجگړو داور په لمبو کی سوځیده، نو دا **مرچ آغا** مرحوم و، چی په سرو گولیو کی به یی دخلکو دژغورلو لپاره دجگړی ډگر ته ورودانگل او دجگړی په اور به یی سړی اوبه

تویی کړی، دټولو ښکیلو غاړو غوړونه به یی پری تاووکړل، هیچا اوهیڅ زورواکی داتوان اوجرات نه درلود چی دحاجی آغا په مخ کی ودریږی او دپریکړی څخه یی سرغړونه وکړی .

حاجی آغا تیر ژمی دزړه دناروغی ددرملنی لپاره دهندوستان هیواد ته تشریف یووړ. تر جراحی عملیاتو وروسته دروان کال دثور دمیاشتی په یوولسمه نیټه دشپی په اته نیمو بجوداالله جل علی شانه په امر ملک الموت دده حضورته حاضرشو او په روغتون کی یی دالله امر ته غاړه کښیښوده او داجل داعیی ته یی لبیک وویل، مبارکه جامه یی بدله کړه او خپله کورنی، شاکرین ،اندیوالان او ټول هیوادوال ، یی دویراو ماتم په ټغر کښینول (انا الله وانا الیه راجعون).

روح یی دتل ښاده وی، یادونه یی دتل ژوندی اوتازه وی، سپڅیلی لاره یی دتل دریښتینو ځوانمردانو اوکاکه ګانو څخه ډکه وی.

**( آمین یارب العلمین)**

***

**تورلیمه می د فراق په ژړا سپین شو**
**دو باره دزړه په وینو کی رنګین شو**

**ما وی زه به لا دید ن کرم دیارا نو**
**خبر نه وم چی یاران په کوچ تعین شو**

**چا پتنګ غوندی ځان واچاوه واورته**
**څوک ژوندی لکه بلبل په آتشین شو**

**ومرده و ته دمرګ خواری شوی پیښنی**
**او ژوندی په زندګی کی اند و هګین شو**

**دقضا سپاهیانو هسی لاس په تاخت کړ**
**چی پایمال هزار خسروهزار شیرین شو**

**چه قد م یی په آسمان ایښو د له نازه**
**هغه هسی ناز پر ور زیر زمین شو**

**چه مدام یی دسنجاب دپاسه خوب کړ**
**اوس په خمکه بی بستر و بی بالین شو**

**درحمان خاطر به ولی پریشان نه وی**
**چی روان ورڅخه جمع هم نشین شو**

وسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

احمدشاه وردګ

کابل- د۱۳۹۰ کال د چنګاښ ۴